مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان
۲۰۲/۰۹/۲۱

# تاسې سپين غرېدلی شئ؟!

زه خو غرېدی شم او که حقيقت و نه وايم، زړه مې ځوريږي.
په ښوونځي او کورس کې هم په عجيبو پوښتنو کولو مشهور وم. ډيرو ښوونکو به هيڅ نه غوښتل بحث راسره وکړي.
مثلاً: يوه ورځ مې د اسلامياتو استاذ ته وويل: خدای پاک په اخلاص سورت کې وايي، چې: (زه بې نيازه يم!) نو بيا څه اړتيا ده چې موږ ورته عبادت وکړو، هغه خو دې شيانو ته ضرورت نه لري؟
ښوونکي د قانع کوونکي ځواب راکولو پر ځای ورټلم او راته ويې ويل چې عقيده کې دې فرق راغلی.
همدا ځواب و چې زما ذهن يې په ديني مسايلو کې لا نورو پوښتنو ته جوړ کړ. خو زه بختور وم، خپل کور کې مې ديني عالم (پلار) درلود. مور مې هم دومره وه چې د قران کريم ترجمه او ليک لوست يې ښه سم زده وو. له ورونو او خويندو سره مې هم بحث کولی شو.
خو د دې ټولو ښېګڼو باوجود يوه اوږده موده د دينونو، آينونو، تفسير، فلسفې، منطق، تصوف، عرفان، خدای پېژندنې، الحاد، اختلاف، تقليد، د انساني ذات د پيل او پای په مطالعه بوخت شوم. داسې شپې را باندې راغلې چې خوب به مې تښتېدلی وو او تر سهاره به مې ګوتې په وېښتو کې بار بار ننوېستلې. له ګونډو به مې لاسونه تاو کړي وو او يخې هوا ته به داسې رپېدم چې د وجود بيا ګرمېدو به مې په نرمې شړۍ کې هم پوره وخت اخيسته. هيڅ بې هيڅه خندا او اوښکې خو مې بيخي معمول ګرځيدلي و. د ۲۰۲۰ کال هغه اونۍ مې لا هم نه ده هېره چې ۷ ورځې مې هيڅ لمونځ ونکړ. له قران کريم اورېدو سره به مې غوږونه څک ودرېدل. خپل ليکل به مې څيرل، ګډې وډې مطالعې مې کولې او ذهن مې له داسې سوالونو ډک وو، چې ځواب به يې يوازې د تنهايې چيغې وې .
ايماناً يې وايم چې څو ځله مې ځان وژنې ته زړه وشو. ان د خودکشۍ ليک مې وليکه، ځکه د ژوندي پاتې کېدو هيڅ سبب او هدف مې نه درلود .
بيا داسې وشول چې يوې ارواه پوه ملګرې، هوښيارو دوستانو، د ګوتو په شمېر ښوونکو او د ويب سايټونو له عالمانو سره په بحثونو سر شوم .
پوښتنو مې ورو ورو ځوابونه موندل او پوی شوم، چې خدای څوک دی؟ انسان ولې پيدا دی؟ عبادت څنګه مهم دی؟ د اسلام اصيل مخ کوم دی؟ عقيده ولې مهمه ده او!....
زه بختور وم چې په څو ژبو کې مې د بيلابيلو مذهبونو او کلتورونو له لارښودونکو پوښتنې کولی شوې، خو تاسې د هغو زړه خوږينو انسانانو په اړه څه خيال لرئ، چې همدا ډول پوښتنې يې ذهن ور پرسولی وي او چې کوم ښوونکي، ملا امام، عالم او رهبر نه پوښتنه وکړي؛ نو هغه يې ورټي؟!!
زه خو نن په ښکاره د دې جملې ويلو جرأت کوم چې: د يوې اوږدې مودې لپاره سم مسلمان نه وم او ښايي دا به زما د اوسني وضعيت هغه ارتقايي حالت و، چې د زړه سکون يې راکړ او له هغې وروسته مې ډيرو وجداني توپانونو ته سينه سپر کړه.
زه خو د خپل مهربان خالق شکر اداء کوم چې نېغه لاره يې را وښوده او د خپل شتون نښې يې راته واضحې کړې.
تاسې څنګه يئ؟
کله له داسې حالت سره مخ شوي يئ؟
کومه ورځ مو له چا نه د خدای، ځان او دنيا په اړه پوښتنه کړې؟
که ځواب مو نه وي، په ځان ورحمېږئ، همدا نن پوښتنې وکړئ، لاړ شئ په ګوګل کې د سترو مبلغينو ويډيوګانې وګورئ، له عالمانو سره تماس ونيسئ، په عقلي او نقلي توګه زړونه مطمئين کړئ. له ديني او ساينسي اړخه بحثونه وکړئ! ګوندې يوه ورځ پوه شئ چې ولې ژوندي يئ!؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولـئ